لیکوال: فضل الله رشتین
د شمشاد تلویزیون د نشراتو رئیس
نیټه ۲۰۱۱-۰۱-۰٦

# د کابل - جلال آباد لویه لار

**د کابل – جلال آباد لار ده خطرناکه – په احتیاط چلوه موټر دې موټروانه**
**ځان دې وساته له مرګه هم د نورو – په یوځان شي د سل هاؤ خانه خرابه**

څرنګه چې لیدل کیږي، هیوادوال او دولتي چارواکي هم خبر دي چې د کابل جلال آباد په لویه لار هره ورځ ترافیکي پیښې منځ ته راځي او زمونږ زیات شمیر هیوادوال په دې پیښو کې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي. د تیرې شنبې په سهار ما له جلال آباد څخه کابل ته په موټر کې سفر کاوه، کله چې مو موټر د نغلو له سر څخه را ښکته شو نو ماهیپر ته لا نه وو رسیدلي چې یو ټریلر له یو کورلا موټر سره چې له جلال آباد څخه کابل ته روان ؤ په یو ې کولایی (موړ) کښې وجنګیده. ټریلر له کابل څخه مخ په ښکته روان ؤ، په موړ کښې د سړک په سر اوبو یخی نیولی ؤ، ټریلر چې کیدای شي سرعت یې زیاد ؤ نو موټروان ونشو کولاي چې ټریلر کنترول کړي، له مخامخ لوري د کورولا موټر چې پنځه کسان پکې ناست وو موړ ته په تیزۍ راورسید او د ټریلر مخې ته راغی . ټریلر و رباندې نیغ ورغی، د کورلا موټر یې له سړ ک څخه ښکته و خورځاوه، شاته یوه غټه تیږه (غرګی) وه د کورولا موټر شا په غرګي ولګیده او ټریلر ورباني ورغی. کورولا موټر د غرګي او ټریلر ترمنځ ساندویچ شو او په کورلا کښې ناست د پنځو کسانو له ډلې څخه دری کسان ځای په ځای مړه، دوه تنه نور یې سخت ټپیان شول چې بیا وروسته له دغو دوو څخه یو بل هم په حق ورسید. په دې کسانو کښې د شمشاد تلویزیون د یو همکار ښاغلي سلیم خان پلار معلم شیر آغا هم په حق ورسید. معلم شیرآغا د ماین د خبرتیا د اومر په موسسه کې کار کاوه. ( انا لله و انا الیه راجعون)

په سبانۍ ورځ یوه بله ترافیکي غمجنه پیښه وشوه چې په هغې کښې هم یو شمیر خلک په حق ورسیدل.
د جلال آباد کابل لویه لار یوه خوني لار ده چې روزانه پکښې موټرې جنګیږی او زمونږ بیګناه هیوادوال مړه کیږي.

زما په فکر په دې لار د ترافیکي پیښو علتونه دا دي:
۱ - د ( کورولا) موټرو تیز چلول
۲ - د نویو موټروانانو بې تجربګي
۳ - په دغه لار د ترافیکو ازدحام
۴ - د ټریلرو بې احتیاطي او تیز رفتاري
۵ – د لارې په اږدو کښې د ترافیکو د مسؤلینو عدم موجودیت
۶ - د سړک نه پلنوالی
۷ - د لارې په اوږدوکې د ترافیکي علامو لږوالی
۸ - په موړونو کښې د ترافیکو د موټرو عدم موجودیت
۹ - په موړونو کښې د جمپونو نه موجودیت
پیشنهادونه :
د مربوطه مقاماتو توجه دې لاندنیو پیشنهادونو ته اړوم:
۱ - د هغو موټروانانو مخه نیول او جریمه کول چې تیز رفتاري کوي. ( دغه موټروانان باید جریمه او موټری دې اقلا د یوې میاشتې د پاره ودرول شي.)
۲ – د لارې په اوږدو کښې د ترافیکو درول
۳ – د لارې په اوږدو کې ځای په ځای د کامرو لګول چې د موټرو سرعت کنترول کړي
۴ - د کابل - جلال آباد په لویه لار د ترافیکو له ازدحام څخه د خلاصون په غرض د (لته بند) د سړک د جوړولو په کار کښې توجه کول او له چټکتیا څخه کار اخستل تر څو ټریلرې او لارۍ په هغه لار تګ راتګ وکړي.
۴ - د ورځې له خوا ټریلرو ته د حرکت اجازه نه ورکول.
۴ – د ټریلرو د تګ راتګ د پاره د ورځو ټاکل، یعني یوه ورځ دې له کابل نه جلال آباد او بله ورځ دې له جلال آباد څخه کابل ته د ټریلرو د تلو راتلو اجازه ورکړل شي.
۴ - په هر موړ یعني کولایي کښې د ترافیکو د موټرو دریدل چې د موټرو سرعت دې کنترول کړي.
۵ - د کولایانو په سل متري فاصلو کښې د جمپونو اچول تر څو ټریلرې او موټرې خپل خپل سرعت کم کړي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۶ - کولایانو ته نارسیده په خاصو ځایونو کښي د احتیاط علامي لکول ترڅو موټروانان د کولایانو خطرونو ته متوجه ووسي.
۷ - دلارې په اوږدو کې د امبیولانسونو د موجودیت ضرورت چې وکولای شي زخمیان په عاجل ډول روغتونو ته ورسوي.
له مربوطه مقامتو څخه هیله کیږي چي پورتنیو ستونزو ته توجه وکړي او پیشنهادونه په نظر کښي ونیسي. دا ستر مسؤلیت دی او دا مسؤلیت د مسؤلینو پرغاړه دی. د حکومت وظیفه دخلکو خدمت دی . دا د حکومت دنده ده چي د خلکو خدمت وکړي. که دا خدمت نه کوي نو له حکومت څخه څه ګټه نشته بیا به دا ښه وي چي هیڅ حکومت نه وي.
ما علینا الا البلاغ

په درنښت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ